ژباړن: سیلانی
۲۰۲۶/۰۹/۱۰

# پر قاین او طبس د زمانشاه د واکمنۍ تاریخي فرمان

۷مه ګڼه سند (د زمانشاه فرمان)
۱ .د سند موضوع: د قاین د سنيخاني له سیمو څخه د طبس بلوک د شرعي قاضي په توګه د میرزا قاسم (جزيکي) ګومارنه.
۲ .د سند نېټه: ۱۲۰۹ هـ.ق.
۳ .پر مُهر کښل شوی مسجع عبارت: «الله، یا هو؛ قرار داد ز الطاف خویشتن یزدان، نگینِ حکمِ جهان را به نام شاهزمان، ۱۲۰۸«.
پښتو معنی: «الله، یا هو! خدای په خپله لورېینه د نړۍ د واک د مُهر غمی د شاهزمان په نوم کړ«.
۴ .د سند متن:
»اعوذ بالله تعالی شأنه.
همایوني فرمان صادر شو: دا چې تر دې وړاندې، د جنت‌المکان سلطان د لیکلي فرمان له مخې، د نجابت خاوند او د فضیلت څښتن میرزا قاسم د قاین د سنيخاني له سیمو څخه د طبس بلوک د قضا مقام ته لوړ او د شرعي قاضي په توګه ګومارل شوی و. د هغه لپاره تنخوا هم ټاکل شوې وه، چې هر کال به يې ترلاسه او پر خپلو اړتیاوو به يې لګوله او د شرعي حکمونو د پلي کولو چارې به يې پر غاړه اخیستې. په دې وخت کې نوموړي د مبارک لیکلي فرمان د تایید او نافذ ساتلو غوښتنه وکړه.
له همدې امله، د روان مبارک پارس‌ییل کال د شپږمیاشتنۍ دورې له پیله مو نوموړی، د پخوانۍ کړنلارې او د جنت‌المکان سلطان په فرمان کې د لیکلي حکم له مخې، د قاین د الکا د اهل‌سنت‌وجماعت له سیمو څخه د طبس بلوک د قضا مقام ته لوړ او د قاضي په توګه وګوماره. د هغه تنخوا او نور ټاکلي مالي حقونه مو هم د پخوا په څېر ورته پر خپل حال ټینګ وساتل، ترڅو هر کال يې د پخوانۍ کړنلارې له مخې ترلاسه او پر خپلو اړتیاوو ولګوي، شرعي حکمونه پلي کړي او خپل ښه خدمت، پوهه او وړتیا څرګنده کړي. د یادو سیمو رعیت او عام خلک دې د پوهي او فضیلت خاوند میرزا قاسم د هغه ځای قاضي وپېژني او د هغه له وینا او حسابي او شرعي صلاحیت څخه دې نه وځي. درانه او ستر مستوفیان دې د دغه مبارک فرمان رسمي نقل په اړوندو دفترونو کې ثبت کړي. د ۱۲۰۹ هـ.ق. کال د ربیع‌الاول په میاشت کې ولیکل شو.
د سند د متن په اړه څرګندوني
۱ .شرعي قاضیانو له حکومت څخه ټاکلي تنخوا ترلاسه کوله.
۲ .دا فرمان هم د پخوانیو فرمانونو تایید دی، چې له مخې يې میرزا قاسم د طبس مسینا بلوک د شرعي قاضي په توګه ګومارل شوی و.
۳ .په دې فرمان کې طبس مسینا د قاین د سنيخاني له سیمو څخه د یوه بلوک په توګه یاد شوی دی. په بله وینا، قاین د مرکز او طبس مسینا يې د یوې تابع سیمې په توګه ګڼل شوی و. څرنګه چې په دې سیمه کې اهل‌سنت اوسېدل، نو دا سیمه د «سنيخاني» په نوم یاده شوې ده.
۴ .د دې فرمان په وروستۍ فقره کې یو د پام وړ محدودوونکی قید راغلی دی: «... د یادو سیمو رعیت او عام خلک دې د فضیلت خاوند میرزا قاسم د هغه ځای قاضي وپېژني او د هغه له وینا او حسابي او شرعي صلاحیت څخه دې نه وځي.» د «حسابي» او «شرعي» کلمو راوړل په دې معنا دي چې که د قاضي د واک له دې ټاکلي ساحې څخه بهر کوم حکم صادر شي، د پلي کېدو وړ به نه وي. دغه محدودوونکی قید د احمدشاه دراني د ۱۱۷۹ هـ.ق. کال د رجب‌المرجب د ۲۶مې نېټې په فرمان کې هم لیدل کېږي.
پایله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

لکه څنګه چې د سندونو له منځپانګې او تاریخي سرچینو څخه څرګندیږي، احمدشاه دراني تر واکمنېدو او د دراني دولت تر جوړولو وروسته وتوانېد چې خپل قلمرو د لوېديځ پر لور تر مشهد پورې وغځوي. د نادرشاه زامنو هم د هغه تر ملاتړ لاندې په خراسان کې خپلې واکمنۍ ته دوام ورکړ. په دې موده کې د خراسان سیاسي ډګر د ګڼو جګړو او سیاسي شخړو ښکار و، چې د واک او واکمنۍ دعوه کوونکو رامنځته کړې وې. د تاريخي سرچينو له مخې، چې په دې ليکنه کې ياد شوي سندونه يې هم تاييدوي، احمدشاه دراني پر «امير علمخان اول» تر بريا وروسته د هغه قلمرو، چې قهستان، سيستان او ان د اوسني افغانستان ځينې سيمې يې رانغاړلې، تر خپلې ولکې لاندې راوستې. د دغو سيمو اوسېدونکو دراني دولت ته ماليه ورکوله.
حسيني جامي د احمدشاه د واکمنۍ د اتم کال، يعني ۱۱۶۷ هـ.ق. کال، د پېښو په بيان کې د طبس مسينا او قاين د کلاوو نيولو ته اشاره کړې او ليکلي يې دي چې د دغو سيمو په نيول کېدو سره د سيمې له خلکو څخه د تېرې لاس لنډ شو. د احمدشاه ځواکونو لومړی طبس مسينا او وروسته قاين ونيول. په قاين کې «سليمانخان کياني» د حکومت پر دنده وګومارل شو؛ خدابخشخان نخعي هم د کلانترۍ پر دنده وګومارل شو او د تون او طبس ګلشن د کلاوو نيولو دنده ور وسپارل شوه.
د يادونې وړ خبره دا ده چې په شته سيمه‌ييزو تاريخي سرچينو کې نه يوازې د هغه مهال پېښو ته ډېره پاملرنه نه ده شوې، بلکې د خزيمه کورنۍ هم په وروستيو پېړيو کې د قهستان د بلامنازعه واکمنانو په توګه راپېژندل شوې ده؛ حال دا چې حسيني جامي په تاريخ احمدشاهي کتاب کې په قاينات کې د احمدشاه دراني له خوا د حاکم ټاکلو ته اشاره کوي او راپېژندل شوي سندونه هم پر قاينات د احمدشاه واکمني څرګندوي.همدارنګه، مجتهدزاده د امير علمخان اول تر مړينې وروسته د پېښو په اړه، د هنري بلو له قوله، د امير علمخان زامن د دراني شاهانو له تابعانو څخه بللي او ليکلي يې دي: «که څه هم داسې شواهد نشته چې د دراني شاه پر وړاندې د دغو اميرانو تابعوالی څرګند کړي، خو د هغوی نه تابعوالی هم د ثابتولو وړ نه دی.
سره له دې، دا منل ستونزمن نه دي چې د امير علمخان تر ماتې او وژل کېدو وروسته، د هغه زوی او ځايناستي امير اسدالله‌خان [ميرعلي] به پر قاينات او سيستان د خپلې کورنۍ د واک د ساتلو په بدل کې د دراني شاه واکمني منلې وي. که داسې وي، بلو يادونه کوي چې دغه تابعوالی ډېر دوام ونه کړ؛ څکه ليکي: «د [دراني] واکمنې کورنۍ د ټوټه کېدو پر مهال، امير اسدالله [ميرعلي] له هر پلوه خپلواک شو» (مجتهدزاده، ۱۳۸۴: ۲۰۸). بلو، چې پر قاينات د احمدشاه تر واکمنۍ څه باندې يوه پېړۍ وروسته يې له دې سيمې ليدنه کړې وه، که خبره يې سمه وي، نو شوني ده چې احمدشاه به د پېښو د توپان تر سرېدو وروسته په دې سيمه کې واک ببرته د خزيمه کورنۍ ته ورکړی وي. په ټوليز ډول ويلای شو چې احمدشاه دراني له بېلابېلو سيمه‌ييزو واکمنانو سره له شخړو ډډه کوله؛ په بله وينا، د کړکېچ کمولو تګلاره يې په پام کې درلوده.
د احمدشاه د فرمانونو پر بنسټ دې پايلې ته رسېدلی شو چې نوموړي د خپلې واکمنۍ پر مهال، پر مشهد سربېره، د خراسان پر مرکزي او سویلي برخو هم واک درلود او په ځانګړې توګه د خراسان سويلي سيمو دراني دولت ته خراج ورکاوه. خو د احمدشاه تر مړينې او د هغه د زوی تيمورشاه تر واکمنېدو وروسته، د دراني کورنۍ د واک د کمزورېدو او په خراسان کې د آغامحمدخان قاجار د پوځي وړاندې تګ له امله، دغه سيمه د احمدشاه د ځايناستو له واکه ووتله. سره له دې، د تيمورشاه او زمانشاه د دوو فرمانونو پر بنسټ ويلای شو چې د سنيخاني جلګه لا هم د دراني کورنۍ تر اغېز لاندې پاتې وه (د اووم سند انځور).
له راپېژندل شويو سندونو څخه يوه بله مهمه پايله دا ترلاسه کېږي چې لکه څنګه چې د خزيمه خانانو ځواک ورو ورو زياتېده، هغوی د سيمې نور واکمنان او خانان په بېلابېلو لارو د واک له ډګره ايستل؛ د بېلګې په توګه، په سيمه‌ييزو جګړو کې ښکېلېدل، لکه د ميرزا بقاخان درمياني له زامنو سره جګړه، او د وژلو لپاره دسيسې جوړول، لکه د خوسف د نخعي خانانو وژل (طرفداري او رفيعي، ۱۳۹۱: ۱۸۰–۱۹۰). په دې توګه، د خزيمه کورنۍ خانان ورو ورو د قاينات پر بې‌سيالو واکمنانو بدل شول.
څکه په دې سيمه کې د خزيمه خانانو ترڅنګ، شيباني خانانو په تون (فردوس) او طبس ګلشن کې، نخعي خانانو په خوسف کې او رفيعي خانانو د سنيخاني (درميان) په سيمه کې واکمني درلوده؛ خو تر اوسه چې په دې سيمه کې کومې تاريخي څېړنې شوې دي، د دغو کورنيو ونډه يکې له پامه غورځول شوې ده. د پام وړ خبره دا ده چې د څېړل شوي پېر پر مهال، د قاينات د واکمنو کورنيو په منځ کې ميرزا بقاخان او د هغه اولاده، يعنې رفيعي خانان، يوازينۍ کورنۍ وه چې آر او ريښه يې ايراني وه؛ په داسې حال کې چې نور خانان په اصل کې عرب و.
مننه
د دغو سندونو پېژندنه د سيد فضل‌الرحيم فاضلي ګزيک د هڅو له برکته شونې شوې ده. نوموړی د سيمې له تاريخ او فرهنګ سره مينه‌لرونکی او هڅاند ځوان دی، چې دغه سندونه يې له خپلو خپلوانو څخه ترلاسه کړل او د امانت په توګه يې ليکوالانو ته وسپارل، ترڅو د هغو د څېړنې چارې ترسره شي. له نوموړي څخه ډېره مننه کو. د ښاغلي فاضلي ګزيک په هوکړه، د دغو سندونو او ګڼو نورو ارزښتناکو خطي نسخو سکن شوې بڼې د آستان قدس رضوي د کتابتون او د اسنادو مرکز له خوا چمتو او د څېړونکو په واک کې ورکړل شوې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

**سرچينې**


۱ .آیتی، محمدحسین (۱۳۷۱). بهارستان در تاریخ و تراجم رجال قاینات و قهستان. چاپ دوم. مشهد: انتشارات دانشگاه فردوسی.
۲ .اعتمادالسلطنه، محمدحسن‌خان (۱۳۶۸). مرآةالبلدان. ټوک ۴ او فهرستونه، د عبدالحسین نوايي او میرهاشم محدث په زيار. تهران: مؤسسه چاپ و انتشارات دانشگاه تهران.
۳ .باسورث، ادموند کلیفورد (۱۳۸۱). سلسله‌های اسلامی جدید: راهنمای گاه‌شماری و تبارشناسی. د فریدون بدره‌اي ژباړه. تهران: مرکز بازشناسی اسلام و ایران.
۴ .حبيبي، عبدالحی (۱۳۴۹). تاریخ مختصر افغانستان. دويم ټوک. کابل: اکادمی تاریخ و ادبیات افغانستان.
۵ .حسيني جامي، محمود بن ابراهیم (۱۳۸۴). تاریخ احمدشاهی: تاریخ تشکیل اولین حکومت افغانستان. د غلامحسین زرگري‌نژاد په تصحیح او لمنلیکونو. تهران: مؤسسه انتشارات و چاپ دانشگاه تهران.
۶ .درمياني (لامع)، محمدرفیع (۱۳۶۵). دیوان لامع. د محمود رفيعي او مظاهر مصفا په زيار. تهران: نشر محمود رفيعي.
۷ .زنګويي، مهدي (۱۳۸۸). قهستان. تهران: دفتر پژوهش‌های فرهنگی.
۸ .شيرازي، سید حسن (۱۳۷۹). تاریخ درانیان. د میرهاشم محدث په تصحیح. تهران: مرکز چاپ و انتشارات وزارت امور خارجه.
۹ .طرفداري، علي‌محمد او رفيعي، محمود (۱۳۹۱). جستارهایی درباره بیرجند. تهران: نشر هیرمند.
۱۰ .غوث، کمال (۱۳۹۰). گنج‌نامه هررنگ. بیرجند: فکر بکر.
۱۱ .فاطمي مقدم، زهرا (۱۳۸۹). «فرامین احمدشاه درانی مرتبط با آستان قدس رضوی». نشریه الکترونیکی شمسه، د آستان قدس رضوي د کتابتونونو، موزیمونو او د اسنادو مرکز اداره، دوره ۲، ۷ـ۸ ګڼه، مخونه ۱ـ۱۲.
۱۲ .اوري، پيټر؛ هامبلي، ګاوين؛ او ملويل، چارلز (۱۳۸۸). تاریخ ایران کمبریج: از نادرشاه تا زندیه. د تیمور قادري ژباړه. تهران: انتشارات مهتاب.
۱۳ .مجتهدزاده، پرویز (۱۳۷۸). امیران مرزدار و مرزهای خاوری ایران. تهران: انتشارات شیرازه.


۱۷ سنبله ۱۴۰۵ - غالب پوهنتون- پای


ليکوالان: محمدرضا سروش او رقیه زعفرانلو (د جنوبي خراسان د فرهنګي میراث عمومي اداري د لرغونپوهني لوړپوړي کارپوهان)
ژباړن: سيلانی





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ